# ماشومتوب واکسین کول

د لا ښه ژوند لپاره د واکسین له لارې معافیت ترلاسه کړئ!



Health and Human Services
Public Health

په ماشومتوب کې د معافیت لوړول

## د ماشومتوب اړوند ناروغۍ کېدای شي هېرې شي، خو لهمنځه نهځي.

د واکسین له لارې د مخنیوي وړ ناروغیو پر وړاندې د ماشومانو خوندي کولو تر ټولو غوره لاره د ژوند په اوږدو کې د واکسینونونو ترلاسه کول دي.

ایا ستاسو ماشوم تر نن ورځې ټول توصیه شوي واکسینونه ترلاسه کړي دي؟ خپل د ماشوم اړوند روغتیايي پاملرنو د خدماتو له وړاندې کوونکي څخه پوښتنه وکړئ.

## واکسینونه: په مخنیوي کې ستاسو تر ټولو غوره ستنه.

که تاسو د واکسینونو په اړه پوښتنې لرئ، نو د خپل روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ.

**د واکسینونو او ناروغیو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، وګورئ**

- **hhs.iowa.gov/public-health/immunization**
- **www.immunize.org**
- **www.cdc.gov/vaccines**
- **www.aap.org**

Health and Human Services
Public Health

06/2024

## واکسینونه څه شی دي او څنګه عمل کوي؟

واکسینونه معافیتي سیستم روزي ترڅو د یوه انتان تر رامنځته کېدو دمخه ویروسونه او باکتریا وپېژني او له هغو سره مبارزه وکړي. واکسینونه له ناروغېدلو او له ناروغیو څخه د اغېزمن کېدلو پرته خوندیتوب رامنځته کوي. د ځینو واکسینونو یوازې یو دوز اړین دی، په داسي حال کې چي نور واکسینونه باید څو څو ځلي ترلاسه شي ترڅو خوندیتوب رامنځته کړي.

## ماشومان څه وخت باید واکسینونه ترلاسه کړي؟

ماشومان د ژوند لومړیو دوو کلونو په اوږدو کې او وروسته بیا د ښوونځي تر پیل دمخه باید توصیه شوي واکسینونه ترلاسه کړي. د معافیت لوړولو توصیه شوي مهالوېش تعقیبول او پر وخت باندې د ماشومانو واکسین کېدل مهم ګڼل کېږي.

د یوه جلا مهالوېش تقیبول او یا د واکسینونو په ترلاسه کولو کې ځنډ، ماشومان د خپرېدونکو ناروغیو له خطر سره مخ او په لوړ احتمال سره له‌لاندې ستونزو څخه اغېزمن کوي

- ړوندوالی
- د مغزو زیان
- اوریدل له لاسه ورکول
- بدشکلي
- د پښتورګو زیان
- فلج
- مړینه

## توصیه کېږي ترڅو په لاندې عُمرونو کې واکسینونه په منظمه توګه ترلاسه شي:

- زېږون
- 2 میاشتې
- 4 میاشتې
- 6 میاشتې
- 12 - 24 میاشتې
- 4 - 6 کاله

## ایا واکسینونه خوندي دي؟

په متحده ایالاتو کې واکسینونه خوندي او اغېزمن دي. واکسینونه جزئي جانبي عوارض لري، لکه د واکسین لګولو په ځای کې درد او یا خفیفه تبه. دغه جزئي نښې نښانې طبیعي دي او داسي باید وانګېرل شي چي بدن معافیت رامنځ ته کوي. د اندېښني وړ غبرګونه ډېر نادر دي. د یوه واکسین ترلاسه کوونکی شخص باید د هغه له ګټو او خطرونو څخه باخبره وي. که هر ډول پوښتني یا اندېښني لرئ، خپل د روغتیایي پاملرني خدماتو وړاندې کوونکي سره وغږېږئ.

## د ماشومانو پر وخت واکسین کول به هغوی د لاندېنیو ناروغیو پر وړاندې خوندي کړي:

- کوویډ-19
- خناق
- تیټانوس (بنده جامه)
- ټوخله (توره ټوخله)
- هپاتیت اې
- هپاتیت بي
- هیموفیلس انفلونزا ډول بی (Hib)
- انفلوېنزا (والګی)
- شری
  ډېبغونی
- روټاویروس
- سرخکان
- نموکوکل (Pneumococcal)
- پولیو
- واریسېلا (د چرګانو تناکه)

### ستاسو د ماشوم د معافیت لوړولو سابقه

د معافیت ازمایښتونه کېدای شي د ژوندانه په اوږدو کې اړین وي. د آیووا معافیتي معلوماتو د ثبت سیستم (Iowa’s Immunization Registry Information System, IRIS) ته د واکسیانسیونونو ثبتولو په هکله خپل د روغتیایي پاملرنو خدماتو له وړاندې کوونکي سره وغږېږئ او د خپلو سوابقو فوټوکاپي ترلاسه کړئ.

